عبدالباری جهانی ۲۰۲۰/۰۲/۱۱

# خـــــیـــــام – جـــــهـــــانـــــی

قسمت سی و چهارم

در کارگه کوزه گری کردم رای
در پایه چرخ دیدم استاد به پای
میکرد دلیر کوزه رادسته و پای
از کلـهٔ پادشاه و از پـای گدای
خیام

د کلال په کار خانه کی تېره شپه مې څو شېبې وې
کوزه گر پکښې ولاړ و جوړې کړې یې کوزې وې
گـرزولـې یې پر لـوښـو هنرمندی کاري گـوتې
د پاچا سر یې په لاس کی ورسره د فقیر پښې وې
جهانی

خوش باش که پخته اند سودای تو دي
ایمن مباش از همه تمنـای تو دی
تو شاد بزی که بي تقاضای تو دی
دادنـد قـرار کـار فـردای تو دی
خیام

غم يې مه کوه فلک دي در شمبرلي ورځی شپې دی
د نصيب له زړه دی هېری تولی هیلی اندېښنې دی
نه اختیار دي د راتـلـو و نه اختیار دی د وتلو
د ازل کاتب لـیکلـي د سـبـا تـولـی شـپـې دی
جهان

ای بـاده تـو شربت من رسوایی
چندان بخـورم تـرا مـن شیدایی
کز دور مرا هـر که ببیند گوید
ای خواجـه شراب از کجا میآیی
خیام

دا رسوا مستي شپې می ستا لـه ډکی پیماني دي
غواړم سر پر سر يې نوش کم د سره می ډکی پيالي دي
چې له لیری مي خوک وینی په مستۍ کی راته وایی
خواجـه دا څنګه شراب دي دا د کومی میخاني دي
جهانی

خواهی که اساس عمر محکم یابی
روزی بـه عـالـم دل خـرم یابی
فارغ منشین ز خوردن باده و می
تـا لـذت عمـر خود دمـادم یابی
خیام

که د عمر د شېبو دي فولادي غوارې بندونه
که پيرزو دي پرخپل ځان دي دا پنځه ورځی عيشونه
چی له لاسه يي کښېنې نه ږدې د سرو ميو پيالې ډکي
چی نصيب دي هر ګړی سي د خواږه عمر خوندونه
جهانی

چون هست زمانه در شتاب ای ساقي
بر نِه به کفم جام شراب ای ساقي
هنگام صبوح قـفـل از در بـکشای
تعجيل کـه امـد آفتاب ای ساقی
خیام

ساقی ژوند په تلوار درومی زړه مي رېږدي له زمانه
پيالـې ډکی راتـه راوړه چی هستي نـه سی پښېمانه
پر سپيـدو که راتـه خلاصه دروازه د ميـخـانې دي
په تـلـوار يې نوشـومـه چی لـمـر خيژی له آسمانه
جهانی

چون آگهی ای پسر ز هر اسراری
چندین چه خوری بیهوده تیماری
چون مـی نـرود باختیارت کاری
خوش باش درین نفس که هستی باری

خیام

چی معلوم دی درتـه ټـوله د زمان او ژوند رازونه
لا ترخو به دي زړه شين وي لا به ولی خورې غمونه
د هستی هره شـیبه ده ستا تـر واک اختیار وتلي
شکر باسه چی موجـود یې چی لا باسې نفسونه

جهانی

تذکر:  هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این شاعر و نویسندهٔ معزز را مطالعه کنند، میتوانند با اجرای "کلیک" برعکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!

برای مطالعهٔ بخش های اول تا سی و دوم بالای لینک آتی کلیک فرمائید:

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/jahani_a_bahari_khayaam_jahaani_۳۳pdf

خیام – جهانی قسمت سی چهارم